# په اسلام کې د رهبرۍ غوره ځانګړتیاوي

پوهنمل رحمت الله عظیمی

**لنډیز**

قیادت د بشري معاملي له هغه شایسته فن څخه عبارت دی چې په بشری او انساني سلوک باندې تــأثیر لــري، انسان د معین هدف لوري ته توجیه کوي ، چې د قیادت اطاعت، ثقه توب او احترام ته هم شامليږي، ځینې فطــري صفات شتون لري چې د قیادي امکانیاتو سره مرسته کوي، خو دغه مرسته معین حد او اندازه لري، د قیادي شخصیت د بشپړتیا لپاره لازمي ده چې په فکري، روحي، جمسمي، اداري، تنظیمي، اخلاقي او شخصي مواصفاتو باندې ســمبال وي، تر څو پورې چې د قائد په شخصیت کې قیادي لازم صفات بشپړ نه شي، اداره او ټولنه به د تزلزل او ګډوډې سره مخ کیږي، ځکه اداره د تنظیم، پلان جوړولو او انضباط په منطق سره تر سره کیږي، د دې لپاره چې قائد پــه خپلــو کارونو کې بریالی او کامیابه واوسي ، لازمي خبره ده چې دی هغه ځانګړتیاوي او استعدادنه په ځان کې ولري، کــوم چې د یو بریالي او کامیابه قائد مواصفات بلل کیږي، لکه ور سپارل شوي دنده په پوره معنی درک کول او پیژنــدل، خپلو چارو ته دقیقه پام لرنه درلودل ، د قوي ارادي څښتن وي، د رښتنولي صفت به لري، د ده او افــرادو تــرمنځ متقابل احترام موجود وي، د افرادو د کارونو تعقیب او څارنه ، د اداري په قوانینو ، اصول، لوایحو، کړنو او تصرفاتو بشپړل خبرتیا ولري، د قیادت او رهبري بریالیتوب تر ټولو په دې ټکې کې نغښتي دی چې رهبر د خپل رعیت او تــر لاس لاندې افرادو سره تل او دوام داره ارتباط ولري، په همدې أساس مي نومورې موضوع غوره کړه چې خپل وروڼه مهمو قیادي صفاتو ته متوجه کړم ، تر څو زموږ د امت ځوانان په ځانګړي توګه هغه وروڼه چې پــه اداراتــو کــې د مسؤولینو په صفت دندي لري ورڅخه استفاده وکړي.

**کلیدي کلمي:** قیادت، قائد، غوره ځانګړتیاوي مسؤولیت، دنده، رعیت

**سریزه**

إنَّ الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، مَن يهده الله، فلا مُضِلَّ له، ومَن يُضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلاَّ الله وحْدَه لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، وبعد:

د دې لپاره چې بحث مو ګټور وي د یوه مشر او رهبر ځانګړتیاوي مو ښي جوتې کړي وي په کار ده چې هغــه نوښتګر او لوړ اخلاقي اصول تر بحث لاندې ونیسو کوم چې بریالي مشران او ستر قیادي شخصیتونه یې دبري تر ساحله رسولي دي .

دیوه مسلمان لپاره تر هرچا د غوره لارښود بېلګه زمونږ دګران لارښود محمد (صلی الله علیه وسلم ) شخصــیت دی،

د الله تعالى هغه رښتونی او امين استازی چې تر بعثت مخکې په رښتنولي او امانتداري پېژندل شوی وو، هغه زمونږ لپاره يوه غوره بېلګه دی، چاچې داسي ستري موخي درلودې چي لوړ ارزښتونه پکي نغښتي ول، چي هغه د هدايت لوري ته دبشريت لارښوونه او دنړۍ هرګوټ ته دحقي وينا رسول وو.

يو بريالی لارښود تل دځان او خپلو اتباعو لپاره رغنده او ارزښتمن اهداف ټاکي او د هغو دلاسته راوړلـــو لپـــاره سنجېده ستراتېژی جوړوي او بيا خپلې هر اړ خېزې هڅې په کار اچوي که داسي ونه کړي نو ځان او خپل ملاتړ کونکي ټول له تباهۍ سره مخامخ کوي.

هغه تل پخپله تګلاره کي نوښتونه مني او راولي، جمود يې پرښه والي اواستبداد يې په فکر او سوچ واکمن نـــه وي، هغه پوهېږي چې کاينات په نه ستومانه کېدونکي ډول په ډېره چټکتيا سره هر وخت د نوښت په لوري درومي، نړۍ او د هغې حالات تل د بدلون په حال کي وي، کوم امکانات چي هغه مخکي په کار اچول هغو خپله دنده سمه ســرته رسولي ده، خو د دې لپاره چي خپلې موخې ژر تر ژره لاسته راوړي په کار ده په وسائلو کې نوښت راولي ځکه چې که هغه داسې ونه کړي نو سيال لوری ورڅخه مخکې کېږي بريالی لارښود او مشر تل له خپلو لارويو سره مشورې کوي، زمونږ ګران لارښود دخپلو اصحابو له مشورې مخ ندی اړولی زمونږ لپاره په کار ده چې د هغه تګلاره ونيسو. فرعـــون چې کله پخپله رايه ټينګ شو او دخپل پلوي خو په پټه کې مسلمان قبطي مشوره يې ونه منله خپل قوم او پلويان ټول دنيل په سمندرګې کې ډوب کړل.

بريالی لارښود خپل پلويان پخپلو موخو خبروي ترڅو هغوی ورسره مرسته وکړي کله چې ګڼ شمېر فکرونه لاسونه سره ورکړي په کارونو کې برکت لوېږي او پايلي يې بريالۍ لاسته راوړني لري .

رسول الله صلی الله عليه وسلم د غوره اخلاقو او حکيمانه قيادت يوه بېلګه وه، هغه خپل ملګري داسي روزل چې له هغه سره يوځای يې ستري دندي په غاړه اخيستلې، او د هغه له وفات نه وروسته هغه مخکښان جوړ شول، چې سترو ګواښونو ته يې غبرګ ورکولې او د خپل لارښود تګلاره يې په ډېر ه امانتداري سره تعقيبوله .

هوښيار مشر ډېر واړه واړه جزيات هم له پامه نه غورځوي ځکه چې کېدای شي په راتلونکې وخت کې ډېر خطر ناک واقع شي، هغه دګواښونو په وړاندي سرنه ټيټوي دسترو پېښو د مخنيوي او له هغـــو څخـــه دروغ رمـــټ وتلـــو دوتنځايونو تلاش کوي، او بريالۍ حل لاري لټوي، ثبات او ټينګښت دهغه په درېځونو او تصميمونو حاکم او بر لاسی وي .

مسلمان لارښود په خپل چلند کي جدي وي خو زړه يې دخپلو ملګرو په وړاندي پاک وي، او د هغوی پـــه وړو تېروتنو سترګې پټوي ځکه خو د هغه په مينه کي د ټولو ملګرو زړونه يوه خوله وي، او هر يو يې د نژدېکت غوښـــتنه کوي، او کله چې خپل مشر ونه ويني لا لهانده او سرګردانه وي.

نو موږ مسلمانانو ته په کار دی چې د اسلامي شريعت له اصولو څخه ځان خبر او خپل ژوند ورسره عيار کـــړو، ځکه اسلام يو شامل نظام دی چې د بشريت ټولې غوښتنې پکې حل شوې هيڅ د اسې قضيه نشته چې په اسلام کې ورته د حل لاره نه وي روښانه شوي، همدا رنګه د اسلامي امت محدثينو، د دي موضوع اړوند احاديث په خپلو کتابونو کې را نقل کړي لکه: امام بخاری ،امام مسلم ، امام طبراني رحمهم الله او نورو علماود قدر وړ ليکنـــي کـــړي دا چـــې

نوموړي ليکنې اکثره په عربي ژبه باندې ليکل شوي زموږ خلک ورڅخه استفاده نه شي کولای کوښښ دا شوی چــې موضوع په افغاني اکاډميکو ادبياتو روښانه شي ترڅو زموږ د مشرانو او کشرانو د دي سنت په حکمت، فلسفه او ګټو باندې د نه پوهيدلو څخه د ژغورلو تنده ماته شوي وي.

**دڅيړني مواد او ميتود**

دا چې ( په اسلام کې د رهبری غوره ځانګړتياوي ) يوه علمي او کتابتوني موضوع ده او تر ډيره حده په قراني آياتونو او نبوي أحاديثو پوري تړلي ده ، نو ځکه د څيړنې کړنلاره پخوانيو اثارو ته کتنه غوره شوي چې تر ډيره حـــده کوښښ شوی دی چې ثقه، او اعتمادي سرچينو څخه استفاده وشي.

**۱- د رهبري او قيادت پيژندنه**

قائد چې په دری ژبه کې ورته رهبر ، فرمان روا، او په پښتو ژبه کې ورته مشر ويل کيږي لغوي معنايې اداره چې او فرمان ورکوونکې ته ويل کيږي . او په اصطلاح کې هغه نوښتګر شخصيت څخه عبارت دی چې د مبتکارانـــه کړنو د ترسره کولو لپاره د نويو تګلارو په اساس غوره نتايج او پايلې لاسته راوړي، بريالی قائد هغه دی چې خپل مهارت د ښي خطي او خاکې د تيارولو په اساس ښکاره کولی شي، د کارونو تنفيذ په ښه ډول تر سره کوي، په حماسي او او روحي ډول له نورو خلکو څخه ځانګړی وي (الفقهي، ۲۰۰۸م، صفحة ۱۲)

**۲- د قائد او رهبر شخصي غوره ځانګړتياوي**

د قائد او رهبر خينې هغه مواصفات او ځانګړتياوي دي چې د ده تر شخصيت پورې اړه لري او ځينې مواصفات چې دی يې په خپله دنده او مسؤوليت کې ولري ځيني بيا داسې مواصفات دي چې دی له خپلو افرادو سره مراعــت کوي غواړو په دي برخه کې د قائد هغه ځانګړتياوي بيان کړو چې تر د ده تر شخصيت پوري اړه لري چې په دي برخه کې مو لس مواصفات او ځانګړتياوي په لاندې توګه ذکر کړي

**۱-۲ -د خپل ځان پيژندنه**

قائد ته لازمه ده چې پخپل ځان کې د ضعف او قوت ټکې و پيژني، کوم رهبر چې خپل استعدادونه او امکانيـــات ورته ښه څر ګند نه وي هغه ته موفق او بريالی رهبر نه شو ويلای، بلکې ډېر ځله دغه بې خبرتيا د زياتو مصيبتونو او لويو ضررونو سبب ګرځي بناء واجبه ده چې قائد لاندې ټکيو ته پوره پاملرنه وکړي:

ا- په خپل ځان کې د ضعف ټکې وپيژني او د هغو د تقويې لپاره دوام داره هڅه او کوښښ وکړي.

ب- خپل پياوړي اړخونه درک کړي او د هغو په پرورش او پالني او روزني او په کار اچولو کې زيار او کوښښ وباسي.

ج- خپل عمومي معلومات پر مخ بوځي او ځان د مختلفو، ادارې، سياسي، ټولنيز، اقتصادې موضوعاتو، نظرياتو او افکاروڅخه خبر کړي.

د- اسلامي او غير اسلامي رهبران او مشران وڅیړي او د دوی د قیادت تګلارې او اسالیب ځان ته څرګند کړي او ښه ځير شي چې دوی څرنګه بریالیتوب او یا د ناکامۍ سره مخ شوي دي.

د رهبریت په نړۍ کې د ځان پېژندنه او پر ځان حاکمیت د نن زماني یو تر ټولو مهم بحث دی، ځکه چې پرځان حاکمیت درلودل انسان په دوامداره توګه هوښیاروي او پوهیږي چې که چیرې ځان بهتره مدیریت کړي، کولای شـي نور هم مدیریت کړي، هغه چې وایي د ځان اصلاح د ټول جهان اصلاح ده، اوپه دي اړه الله جل جلاله فرمایلي دي: **{إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ}** [سورةالرعد: ١١]

ژباړه: يقنا الله جل جلاله د یو قوم حالت نه تغیروي مګر دا چې خپله دوی هغه څه چې ځانونو کې یې لري تغیر نه کړي.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم): هغه صحابه ؤ ته چې له غزوي څخه را وګرځیـدل وفرمایـل **{"قَدِمْتُمْ مِنَ الْجِهَادِ الأَصْغَرِ إِلَى الْجِهَادِ الأَكْبَرِ" قالوا: "وما الجهاد الأكبر؟" قال: "مُجَاهَدَةُ الْعَبْدِ هَوَاهُ"** }( (بیهقـی, ۱۴۰۸هــ, پاڼه ۱۵۶)

ژباړ: تاسو له کوچني جهاد څخه ستر جهاد ته را وګرځیدئ، صحابو عر ض وکړ چې ستر جهاد څـه شـي دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : د بنده مبارزه له خپلو نفسي خواهشاتو سره.

یو مدیر چې خپل ځان ونه پیژني او خپل ځان اصلاح نه کړي نو تر لاس لاندې افراد به بیا څنګه اصلاح کړي؟ که خپل ځان وپیژني له شتو فرصتونو څخه غوره ګټه واخلي، ضرور نه ده چې اوس په کوم حالت کې دی، تل دې پــه خپل ځای دریدلی پاته شي، که چیرې قوي اراده، عزم او پوهه ولري کولای شي د خپل مسلک لوړ مقام ته ورســیږي، خو دا هم باید په یاد ولري چې له فرصتونو سره مسؤلیتونه هم راځي، له همدې فرصتونو څخه ګټي اخیستني لپــاره باید د ځان اداره کولو مسؤولیت واخلي. که چیرې د نړۍ یا د خپل ګران هېواد نوم وتو خلکو ته نظر وکړو ، یا د هغو خلکو ژوند ته چې نسبي بریالیتوب سره مخ شوي، موږ ته به د هغوی ژوند یوه افسانه او ناول ښکاري، چې څرنګه یو څوک کولای شي د ژوند لوړو ته ورسیږي، د نړۍ هر نوم وتی شخص که په هره برخه کې وي، که له هر څه وړاندې یې ځان پیژندلی وه، او خپل استعدادونه ورته معلوم وه غوره مدیر او رهبر ورته ویلای شو.

### ۲- ۲ - غوره مشرولي او رهبري

په هره ټولنه کې افراد او د ټولني وګړي خپلو مشرانو او رهبرانو ته د ښه اوغوره مثال په توګه متوجه او پاملرنــه کوي، په دوی پسې حرکت کوی، ګام په ګام یې کړني او کارونه، مواصفات او عادتونه تعقیبوي، کوښښ کوي چې د خپل مشر او رهبر خصوصیات او عادات خپل کړي، بناء د مشر او رهبر فعالیت، اخلاق، ویناوي او اعمال د ټولني په افرادو باندې اثر او اغیزه لري، همدا علت وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له لوري خپلو پیروانو او امتیانو ته د نیک او غوره مثال په توکه ور معرفي شوی لکه چې الله جل جلاله فرمـایلي دي. **{ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا }** سورة الأحزاب۲۱ ایت.

ژباړه تاسې ته د الله جل جلاله استازی نېک مثال او غوره سر مشق دی، د هغه چا لپاره چې امید لري الله ته او د اخرت ورځې ته او د الله ډېر ذکر او یادونه کوي.

مشر او رهبر باید وکولای شي خپلو افرادو ته ووایي چې زما په څېر شئ لکه چې رسول الله صلی الله علیه سلم به صحابو ته وویل {صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي} (البخاري, ۱۴۰۷هـ ق, پاڼه ۵)

ژباړه: داسي لمونځ وکړئ لکه زه يې چې کوم. داسي نه چې قائد خپله په لمانځه نه پوهيږي،

رسول الله صلی الله علیه وسلم په هر ډګر او میدان کې غوره مشر او قائد وه په کورکې د غوره پلار او مهربـــان خاوند بهترينه نمونه وه، په ټولنه کې غوره رهبر وه په نظامي ميدان کې غوره او بي مثاله قومندان وه په سياسي ميدان کې غوره سياست مدار وه، هر صحابي به غوښتل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولي کړني په خپل ژوند کې تطبيـــق کړي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورني ژوند سياسي او دولت داري ژوند ټولنيز ژوند اقتصادی ژونـــد د امـــت مسلمه مسؤولينو او مشرانو تخ غوره مثالونه دي همدا راز له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د راشده خليفه ګانو ژوند د غوره مشرولي لپاره بهتريني نموني دي، د اسلامي نظام مشران بايد کوښښ وکړي د رسول الله صـــلی الله علیه وسلم او راشده خلیفه ګانو ژوند هر اړخيز ه مطالعه کړي ترڅو غوره رهبر او مشر تري جوړ شي.

حسن بصري رحمه الله د خپل وفات په وخت کې خپلو زامنو ته وويل زامنو زما په څير شئ او له ما څخه يې زده کړي ځکه تر ما تاسو ته خير خواه انسان وجود نه لري ، کله چې زه مړ شوم تاسو خپل مسؤول په تاسو مشر فرد تـــه وسپارئ (الربعي،۱۴۰٦ه ق،ص۵۹)

### ۳-۲- ژور او دقيق نظر درلودل

د قائد او مشر لپاره د هر موقف او پيښې په هکله د سريع او سليم سنجش او تحليل توان لرل، او پـــه مختلفـــو حالاتو او شرايطو کې قطعي فيصلې او تصميم ته رسيدل د دې سبب ګرځي چې د افرادو اعتماد او درناوی ځـــان تـــه جلب کړي... خو تردد، شک او پیچیدګي، حیرانتیا او وار خطايي، د ګډوډي، بي نظمي او عدم اعتماد باعث ګرځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژور او دقيق نظر څخه وروسته د اسلامي دولت له تأسيس سره سم د مديني منـــورې سرحداتو ته سراياوي د غوره قومندانو تر سرپرستي لاندې ليږل چې په کفارو او مشرکينو باندې يې د اسلامي دولـــت رعب او دبدبه کيناوه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم دقيق او مدبرانه نظر وه چې د بدر په غزوه کې يې ستره فـــتح لاسته راوړه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژور نظر وه چې د احزاب په غزوه کې د يهودو د بني قريظه ډلي له وعده ماتيدلو نه وراخطاء نه شو بلکې صحابه کرام يې په نورمال حالت کې وساته،( العواجي،۱۴۲۵هـــ ق، ص۵۱۳)، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ژور او مدبرانه نظر وه چې د حنين په غزوه کې يې صحابه کرام له وارخطايي او عقـــب نيشني څخه وژغوره چې وويل{أَنَا النَّبِيُّ لاَ كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ المُطَّلِبْ} ( صحيح البخاري(۱۴۲۲هـ .ق، ص۳۱) زه د الله پيغمبر يم دروغ نه وايم زه د عبد المطلب زوی يم.( مخکنی مرجع ۱۴۲۲هـ .ق، ص۳۱)

او همدا راز له مشرکينو سره د حديبي سوله سره له دې چې په اول کې اکثره مسلمانان پري خفـــه ول خـــو وروسته پوه شول چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ځای تصميم نيولی ټول ورته تســـليم شـــول (المبـــارکفوري, ۱۹۸۰م , پاڼه۸۷)

**۴- ۲ - د قوي ارادي درلودونکي وي**

د ارادې قوت د قائد او رهبر د شخصیت له ارکانو څخه ګڼل کېږي چې کولای شي د هغه په واسطه مشکلات او ستونزي او خنډونه له منځه یوسي. نن ورځ د اسلامي امت مشران تر ټولو زیات هغو قوي او فولادي ارادو ته اړ دي چې مشکلات، کړاونه او خنډونه یې له مخې تښتي، د ابوبکر صدیق رضی الله قوي تصمیم او اراده د زکات د مانعینو په اړه ښکاره دلیل دی چې د اسلامي دولت په داخل کې یې د قوي ارادي په اساس فتنه ختمه کړه، او د دوی په اړه یې وویل: «**لَوْ مَنَعُونِي عِقَالًا لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ**» ژباړه: که دوی د اوښ زنګون بند هم را څخه وګرځوي جهاد به ورسره کوم. (الأصبحي, ۱۴۰۶ هـ - ۱۹۸۵ م, پاڼه ۲۶۹)، د عمر رضی الله عنه قوي اراده او شجاعت او میړانه وه چې د روم او فارس امپراطوری ورته په ګونډو شول.

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **{الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ...}** (النسابوری, ۱۳۷۴هـ.ق, پاڼه ۲۵۲) ژباړه: قوی مؤمن له کمزوري مؤمن څخه الله ته غوره او محبوب دی. قوت یوه عامه اصطلاح ده چې مسلمان په هر لحاظ سره قوي وي که قوي جسم قوت وی که ایماني قوت او که ارادي قوت او داسي نور..

هیله او قوی اراده فرق کوي قوي اراده چې اهدف او موخو ته د عمل جامه ور اغوندي هیلي د هغو خوبونو حیثیت لري چې کله متحقق کیږي او کله هم نه مشر ته په کار دی چې قوي اراده ولري نه هیلی او کمزری اراده.

**۵- ۲ -فطري جاذبه او کشش به لري**

دا هغه طبیعي صفت دی که چېري په کوم مشر او قائد کې ولېدل شي کولای شي بي تکلیف او تکلف څخه د خپلو افرادو او مامورینو زړونه د ځان په لورې جذب کړي. دغه عنصر له هغو قوي عناصرو څخه ګڼل کېږي چې د قائد شخصیت ورڅخه تشکلېږي.

نوموړی صفت او ځانګړتیا له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره موجود وه په همدي اساس کله چې به هر څوک ورسره کیناستی دعوت ته به یې لبیک ووایه، ښه مثال یې د مدیني منورې شپږ ځوانان ول څرنګه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوی سره مجلس وکول دوي په اسلام مشرف شول. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۷)

**۲-۶ -تفا ؤل (امید لرونکي به وي**

د قائد او رهبر د شخصیت لپاره تفاؤل یا امید لرل جوهري او لازمي صفت دی، ځکه قائد ته ښایي تر څو تل امیدوار واوسي او په سړه سینه خپلو هیلو ته ته سترګې په لاره وي، خو هدف ته د رسېدلو په لاره کې هېڅکله باید د شرائطو محاسبه او ژور تحلیل د لاسه ور نه کړي، تر څو الله جل جلاله مه کړه د نا څاپي سختیو، پیښو او ناکامیو سره مخامخ نه شي.

په دي کې شکه نشته چې مايوسي د افرادو او ټولنو په ژوندانه کې د ناکامۍ او ويجاړۍ خورا لوي عامل دی، دا هېڅکله صحيح نه ده چې مايوسي ته (پوهه) او هيلمندي ته ( ناپوهي) ووايو، او دا هم سمه نه ده چې هيلــه منــدي د عاطفې او احساساتو تر اغيزې لاندې راشي، بلکې لازمه ده چې هيله مندي د عقل او ښه سنجش سره يو ځای وي.

قيادت د لښکر مخکني جبهه او د قافلې سر دی، په صفونو باندې د هغه اغيزه خورا زياته ده، که چېــري قائــد مأيوس او کمزوری شي افراد هم د کمزورتيا او مأيوسي سره مخامخ کېږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم د بدر پــه سختو شرايطو کې چې د مشرکينو ستر لښکر يې مخې د جنګي وسائلو سره مجهز جنګ ته ولاړ دي خپلو صحابو ته د جنت زيری ورکوي د فتحې او کاميابي اميدونه ورکوي او داسې ورته وايي:{ **قُومُوا إِلَى جَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ» ، قَالَ: - يَقُولُ عُمَيْرُ بْنُ الْحُمَامِ الْأَنْصَارِيُّ: - يَا رَسُولَ اللهِ، جَنَّةٌ عَرْضُهَا السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ؟ قَ: «نَعَمْ» ، قَالَ: بَخٍ بَخٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا يَحْمِلُكَ عَلَى قَوْلِكَ بَخٍ بَخٍ؟» قَالَ: لَا وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، إِلَّا رَجَاءَةَ أَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِهَا، قَالَ: «فَإِنَّكَ مِنْ أَهْلِهَا» ، فَأَخْرَجَ تَمَرَاتٍ مِنْ قَرَنِهِ، فَجَعَلَ يَأْكُلُ مِنْهُنَّ، ثُمَّ قَالَ: لَئِنْ أَنَا حَيِيتُ حَتَّى آكُلَ تَمَرَاتِي هَذِهِ إِنَّهَا لَحَيَاةٌ طَوِيلَةٌ، قَالَ: فَرَمَى بِمَا كَانَ مَعَهُ مِنَ التَّمْرِ، ثُمَّ قَاتَلَهُمْ حَتَّى قُتِلَ** }(النسابوری, ۱۳۷۴هــ., پاڼه ۱۵۱۰) ژباړ: ولاړ شئ د هغه جنت پــه لــوري چــې پراخوالی يې د آسمانونو او ځمکي په اندازه دی، عمير رضی الله عنه وايي يارسول الله جنت د آسمانونو او ځمکي پــه اندازه پراخه؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وايي هو، دی له خوشحالي وايي بخ بخ يعني څومره ښه رســول الله صلی الله عليه وسلم ورڅخه پوښته کوي دا کلمات دي د څه په خاطر وويل؟ دی ځواب وايي بل هدف مي نه وه مګر دا اميد مي لرم چې زه يې له هل څخه وګرځم رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وايي ته يې اهل يې، عمير رضی الله لــه خپلي کڅوړي څخه خرماوي راويستلي په خوراک يې شروع وکړه وروسته يې وغورزولې او داسي يې وويــل کــه زه دومره وخت ژوندی پاته شم چې دا خرماوي وخورم دا اوږد ژوند دی وروسته وجنګيده تردي چې شهيد شو (او خپــل کوم اميد او هيله چې يې درلوده ورسيده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل دعوت په موده کې د فشار، ربړونو او تشکيک د منظمو حملو سره مخامخ ؤ، چې د اسلام دښمنانو د ضررونو او ربړونو تر ټولو سختو او شديدو ډولونو څخه کار اخېسته، دا ټول مشکلات پرې راغلل خو د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د ده د ملګرو اراده کې کوم ضعف پيدا نه شو کړای؛ بلکې بــالعکس رسول الله صلی الله عليه وسلم د هيله مندي په سترګه د لله جل جلاله مرستي او نصرت ته کتل، په داسې حال کې چې د دښمن لښکرو مدينه محاصره کړې وه، او د اسلام او مسلمانانو د ماتې او نابودې انتظار يې درلود، د الله جل جلاله له لورې مسلمانانو ته د اطمنان او بري زيری ورکول کېدل، په دې خطرناک او ويرووونکې حالت کــې پــه منافقــانو او کمزورو کسانو ويل: محمد مونږ ته د کسری او قيصر د خزانو وعده راکوي په داسي حال کې چې موږ د وېرې لــه لاسه قضای حاجت ته هم د باندې نه شو وتلای، خو د الله جل جلاله په مرسته اعتماد کوونکې او باور لرونکو بل ډول موقف درلود . (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۷)

**۷-۲- د مثبت فکر او نظر درلودنکي به وي**

غوره رهبران يا مشران ، د هيله ښښونکي چلند نه برخمن وي، چې د پيروانو لپاره د الهام سرچينې په توګه کار کوي. که مشران بې حوصله شي او يا بې حوصلې ښکاري، نو لاس لاندې مامورين او رعيت يې هم دا احتمال لري چې، بې حوصله شي، حتا کله چې شيان تياره ښکاري د قائد فکري ملګري د نا اميدۍ احساس پيل کوي، نو هڅه دي وکړئ چې مثبت پاتې شي ، دا په ساده ډول د ننګونو په وړاندې د اميد خوشبينۍ او اميد ساتلو مفهوم او معنى لري، غوره رهبران او مشران تل خپل افراد، مامورين او مشاورين هڅوي ترڅو د نظرونو او پلانونو په وړاندې کولو کې فعاله ونډه واخلي، په دي سر د ډېرو ستونزو حل او د محصولاتو ښه والي لامل کيږي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د احزاب په غزوه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له لوري په داسې سختو شرايطو کې چې خپله مبارک هم په خپل نس پورې د لوږې په خاطر دوه ډبرې تړلي وي صحابو ته وويل: ماته د شام کلياني راکړل شوي او په الله قسم کوم زه اوس د شام سره قصرونه وينم بيا يې وويل: ماته د فارس امپراطوري راکړل شوه، زه د مدائن سپيني ماڼۍ وينم بيا يې وويل ماته د يمن کلياني راکړل شوي په الله قسم زه د صنعاء دروازې وينم. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۷)

د حديبې د سولې په سر کې کله چې سهيل بن عمرو ښکاره شو نبي کريم صلى الله عليه وسلم صحابو ته وويل: {لَقَدْ سَهُلَ لَكُمْ مِنْ أَمْرِكُمْ} (البخاري, ۱۴۰۷هــ ق, پاڼه۵)

ژباړه: يقينا ستاسو کارونه اسانه شو. يعني د سهيل په اړه يې مثبت فکر درلوده او صحابو ته يې هم مثبت فکر ورکړ.

## ۸-۲- په غور سره د خبرو اورېدونکي وي او ستونزو ته په وخت سره رسيدګي وکړي

کله چې قائد او مشر د خلکو خبرو ته غوږ نږدی، د دې ښکارندويي کوي چې اصلاً ورته ارزښت نه لري، خو کله چې د کارمندانو خبرو ته غوږ ږدی او د دوی ستونزو ته په وخت رسيدګي کوئ، دا ثابتوی چې درناوی ورته لری، ان دا چې غوږ نيول له درناوي لوړ ارزښت دی، چې مقابل کس ته ورکول کيږي، تر ټولو لويې تېروتنې چې خلک يې د دوو اړخيزو خبرو پر مهال کوي دا دي، چې ډېرې خبرې کوي څو ځان هوښيار معرفي کړي، خو که غواړو په اداره کې په رښتيا سره د يو چا زړه خپل کړو او اغېز پرې وکړو، خبرو ته يې په پوره دقت غوږ کېږدو ، دا به د دې سبب شي چې د افرادو او رعيت په زړونو کې د يو ښه مشر او رهبر په حيث وپېژندل شو، د يو غوره رهبر دا ځانګړنه ده چې د خپلو افرادو او رعيت مشروع غوښتنې او ستونزې درک کړي، په خپل وخت ورته رسيدګي وکړي. ځکه کوم مشران چې په اداره کې ډېر سخت ګيره او کبرجن وي، د افرادو غوښتنې له نظره غورځوي، خپل رعيت او مامورينو څخه د ماشين په حيث تمه او ورته وګوري، لرې نه ده چې اداره به د زوال او سقوط تر حده رسيږي،

حسن بصري (رحمه الله) فرمايلي دي: لکه څرنګه چې د ښايسته اقوالو زدکړه کوئ نو د غوره غوږ نيولو زدکړه هم وکړئ او د هيڅ چا خبري مه قطع کوئ. (الخرايطی, ۱۴۰۶هــ, پاڼه ۱۵۵)

الله جل جلاله د هغو خلکو ستاينه کوي چې خبره په غوره سره اوري او پيروي يې کوي: {الَّذِينَ يَسْتَمِعُونَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُونَ أَحْسَنَهُ أُولئِكَ الَّذِينَ هَداهُمُ اللَّهُ} سورةالزمر ۱۸ايت.

ژباړه: هغه خلک چې خبره اوري او د احسن او غوره وینا پیروي کوي دا هغه خلک دي چې الله جل جلال ورته هدایت او لارښونه کړي.

### ۹-۲ – ریښتني او صادق شخصیت به وي

له ریښتینوالي څخه هدف د وینا او عمل تر منځ له تضاد څخه ځان ساتل او ورسره دا احساس دی چې د یو مشر په حیث زموږ اعمال ټولو ته ځرګنده او ښکاره دي. ټول پوهیږي چې موږ ځرنګه له هر چا سره مخامخ عمل کوو او د هغوی په غیاب کې هم همداسې یاستو، چې دا د اعتماد سبب ګرځي زموږ افراد او ملګري پر موږ باور کوي. هغوی موږ ته د یوه داسې چا پر سترګه ګوري چې کولای شو ملا پرې وتړو او د خپل اعمالو لپاره موږ مسؤل وګڼي. بـــاور رامنځ ته کیږي، کارمندان زموږ په حضور کې ځان خوندي احساسوي او په موږ اغېزه پیدا کوئ. لکه ځرنګه چـــې د کارمندانو لپاره صداقت او ریښتینولي اړینه ده ، همدارنګه د قائد لپاره هم ډېره اړینه ده، ځکه که د قائد او مشر د وینا او عمل ترمنځ تضاد واوسي، کارمندان داسې فکر کوي، چې مشر مو داسې دی موږ نه څه ګیله، صداقت او ریښتینولي د ژوند په هر ډګر " شخصیت جوړولو کې، اعتماد کولو کې، خبرو کولو " کې ډېره مهمه ونډه لري. د یو مشر لپاره غوره ده چې په خپلو کارمندانو د اعتبار پخولو لپاره صادق با اخلاقه واوسي. کله چې هر قل له ابو سفیان رضی الله عنه څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه پوښتني وکړي په ځواب کې ابو سفیان رضی الله عنه ورته وویل: (یَأْمُرُنَـــا یَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بِالصَّلاَةِ وَالصِّدْقِ وَالعَفَافِ» (البخاري, ۱۴۰۷هــ ق, پاڼه ۷۸)

ژباړه: موږ ته نبي صلی الله علیه وسلم په لمونځ کولو، ریښتیاویلو او پاک لمني باندې امر کاوه. همد اراز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي{عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا} (النسابوری, ۱۳۷۴هــ., پاڼه ۲۰۱۳)

ژباړه: په تاسو ریښتیا ویل لازمي او واجب دی ځکه ریښتیا ویل نیکو کارونو ته لارښونه کوي، نیکي جنت لورې ته لارښونه کوي، مسلمان تل ریښتیا وایې او د ریښتیاویلو فکر کوي تر دي چې د الله جل جلاله سره په ریښتیاویونکو کـــې ولیکل شي.

### ۱۰-۲- متکبر او ریاء کاره به نه وي

ډېر داسې فکر کوي چې په ژوند او موقف کې کبر او ځان لوړ ښودل د باور نښه ده، ډېرو مشرانو ته ځان په دې بد ښکاري چې له ځان ټیټ ته درناوی وکړي، یا له ځانه تواضع وښیي، هر څومره چې کبرجن، ایغ نیغ او بې پروا وي همدومره ورته ځان ښه مشر او رهبر ښکاري. ځینې تواضع او عاجزي د ضعف په معنا ګڼي، متکبره مشران له خپـــل ځان سره فخر، پر ځان میین توب یا له نورو خپلو ګټو وړاندې ګڼل، خپل نظر ته ارزښت ورکول، پر نورو واک لرل یا دا تمه چې ټول دې د ده خبره بې پوښتني ومني او بې ځایه قهریدل یا خلکو ته دا احساس ورکول چې لیرې دې اخـــوا دیخوا خبره وکړه په قهریږم، او داسې نور احساسات د مشری یو منلی اصل ګڼي چې دا یو غلط تصور او غیر اسلامي

خاصيت او عادت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دي اړه فرمايلي دي {وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرِيَاءَ} (النسابوری, ۱۳۷۴هـ., پاڼه ۹۳)

ژباړه: جنت ته به داخل نه شي هغه شخص چې په زړه کې د مثقال په اندازې سره کبر او لويې وي.

**۳- د دندي او اداري اړوند د قائد او رهبر غوره ځانګړتياوي**

دا چې د دندي اړوند د قائد لپاره ځانګړي مواصفات شتون لري، دا چې په دي مختصره مقاله کې نه شوه کولای له ټولو څخه يادونه وکړو غواړم په دي برخه کې دوه أهم او اړين مواصفات ذکر کړم چې په لاندې توګه ورڅخه يادونه کوو:

**۱- ۳-د دندي او مسؤوليت په اړه به پشپړ معلومات لري**

د دي لپاره چې قائد خپل مسؤوليت په بشپړ ډول سره و پيژني، لازمه ده چې فکري، تنظيمي او توجهيي چارو ته متوجه وي، فعاليتونه او کړني يې تعقيب کړي او پر اعمالو او تصرفاتو يې څارنه او بشپړه پوهه ولري.

د قيادت او رهبري برياليتوب تر ټولو په دې ټکي کې نغښتي دی چې ښايي رهبر د خپل رعيت او مامورينو او تر لاس لاندې خلکو سره تل اختلاط او ارتباط ولري، نه دا چې خپل دفتر کې دځپلو متحرکو او فعالو ورنو څخه بيل ژوند وکړي، بلکې د رهبري مسؤوليتونه دا ايجابوي چې قائد تل د خپلو افرادو سره پر ليسې توګه اتصال او ارتباط ولري، د دوی نظريات په غوره سره واوري او له مشکلاتو څخه يې ځان خبر کړي، چې نوموړی کار په پايله کې د ( رهبر او رعيت) د باخبرتيا او ګټورو تجربو او تحليلونو سبب او لامل ګرځي.

که قائد خپل مسؤوليت په سمه توګه و نه پيژني، نه شي کولای چې خپل سپارل شوي دنده په سمه توګـــه آداء کړي چې په نتيجه کې به له دنيوي او اخروي محاسبي او ذلت سره مخ کيږي، د مسؤوليت په اړه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:{ كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، الإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، } (البخـــاري, ۱۴۰۷هـــ ق, پاڼه ۵)

ژباړه: هر يو له ستاسو څخه د شپانه حيثيت لري ، او هر يو له تاسو څخه د خپل رعيت په اړه سوال کيـــدونکی دی، امام او مشر د خپل رعيت شپون او په اړه يې له ده څخه سوال کول کيږي او محاسبه ورسره کيږي..

همدا رنګه کله چې جليل القدره صحابي أبي ذر رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د دندي او مسؤوليت غوښتنه وکړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته په ځواب کې وفرمايل{ يَا أَبَا ذَرٍّ، إِنَّكَ ضَعِيفٌ، وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ، وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ، إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا، وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا} ژبـــاړه: ای أبـــاذره تـــه کمزوری يې، مسؤليت او دنده امانت دی او د قيامت په ورځ شرمندګي او او پشماني ده مګر هغه خلک چې په حـــق سره يې واخلي او هغه حقوق آداء کړي چې په ده باندې دي. صحيح مســـلم ۱۳۷۴هــــ ش- ج (۳/ ص۱۴۵۷د حديث شميره ۱۸۲۵).

**۲-۳- د اداري راتلونکو فعاليتونو او کړنو ته مثبته وړاندوينه**

هر شرکت او هره ادراه خپل راتلونکی ته پلانونه جوړي، ترڅو په مارکیټ کې د خپلو سیالانو په وړاندې پرمختګ وکړي. غوره مشران د اداري راتلونکی ښه تصور کولی شي، تل د خپل ځان، کارمندانو، او اداري راتلونکي ته هیله مند وي، په اداره کې د منفي ګرایی پرځای د مثبت ګرایی کلتور خپروي، کله چې په اداره کې کومې ستونزې رامنځ ته کېږي، نو ډیری وخت یې پړه په کارمندانو نه اچوي بلکې د ستونزې لاملونه له منځه وړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکه مکرمه کې صحابو ته وایې تاسو به داسې وخت امنیت او سوله ووینئ چې (حضرت موت) نه تر (صنعا) پورې به یوه میرمنه یواځې سفر کوي له الله جل جلاله څخه بیغر به له هیڅ چا څخه د ډار او ویري تشویش ورسره نه وي (البخاري, ۱۴۰۷هـ ق, پاڼه ۲۰۱) ، د بدر غزوه کې یوه ورځ مخکې صحابه و ته وایې سبا به ان شاء الله ابوجهل دې ځای کې مړ کیږي، عتبه به دلته او شیبه به دلته د هر مشرک د مړکیدلو ځای په مشخص ډول سره صحابه وو ته وایې دا خپله مثبته وړاندوینه ده تر څو مجاهدین روحیه واخلي او پر مختګ وکړي (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۱۰۹).

### ۳-۳ -د سهولت او أسانتیاو ایجادول

مشر او رهبر باید د خپلو افرادو او عام ملت لپاره تل د آسانتیاو د رامنځ ته کولو هڅه او کوښښ وکړي، بې ځایه قیودات او مشکلات وضع نه کي په ځانګړي توګه داسې قیودات چې په اسلامي شریعت کې ورته کوم اصل وجود ونه لري، وضع نه کړي د قوانینو او لوایحو په وضع کولو کې کوښښ وکړي چې آسانه وي مامورین او افراد په حرج او تکلف کې واقع نه کړي، عام ملت ته سهولتونه او آسانتیاوی رامنځ ته کړي د مثال په توګه کومه ساحه کې چې خلک سړک، کلینک، شفاخانه، مکتب او پوهنتون ته ضرورت او اړتیا لري د ایجاد لپاره یې هر اړخیز کوښښ وکړي، په بازار کې چې د ځینو افراد له لورې په ملت باندې ظلم کیږي که هغه په تجارتي برخه کې وي او که په سیاسي برخه کې او که ټولنیزو برخو کې او که په تعلیمي برخه، قائد او رهبر باید زر ترزه د نوموړي ظلم مخه ونیسي، د مشر اوقائد دروازه افرادو او ملت ته همیشه خلاص وي داسې نه وي چې مشر په میاشتو میاشتو مامورین او مراجعین نه شي ځکه دا بیا سختي ده خلک مشکلات لري که مشر ورته وخت ورنه کړي خلک په حرج کې واقع کیږي، په همدي خاطر چې کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې صحابه کرام د سیاسي او دعوتي چارو د سمبالو لپاره د اسلامي دولت ولایاتو د مسؤول او مشر به حیث استول داسې به یې ورته ویل: «بَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا، وَيَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا» (النسابوری, ۱۳۷۴هـ., پاڼه ۱۳۵۸). ژباړه: خلکو ته بشارت او زیری ورکړئ، نفرت او کرکه مه خپروی، آساني کوی سختي مه کوئ،

### ۴- له مامورینو او رعیت سره د قائد غوره مواصفات

د قائد له غوره مواصفاتو څخه چې له خپلو افرادو او مامورینو سره به یې مراعتوي د اسلامي امت د قیادتونو غوره بلګې او مثالونه لرو چې هغوی له خپلو أفرادو سره مراعت کول، د دي لپاره چې بحث اوږد نه شي راځم په هغو صفاتو باندې په ماده واره توګه بحث کوم چې د قائد او رهبر لپاره ډیر اړین او ضروري دي:

**۱-۴ – وينبه څارنه**

د قائد او مشر له لورې د خپلو افرادو او مامورينو کتنه او ښه پېژندنه او د دوی د عمومي او خصوصي حالاتو څخه ځان خبرول، په خوشحاليو او تفريحي مجالسو کې يې شرکت او ګډون کول او د دوی د مشکلاتو څخه ځان خبرول د حل هڅه او کوښښ کول، د غم او مصيبت په حالت کې ورسره غم شريکې کول، تسلي او د زړه ډاډ ورکـــول، د ضرورت په صورت کې مالي مرسته ورسره کول، دغه ټول هغه عوامل دي چې د انضباط او اعتماد په جلبولو کې ستر رول لري، او په نتيجه کې د دوی د استعدادنو او وړتياو څخه ګټوره استفاده اخيستل کېدلای شي. په هغو ادارو کـــې چې د اداري د مشر لخوا په کارمندانو باندې تل جدي څارنه کوي، او خپلې خوښې ته يې نه پريږدي په د هر فـــرد او مامور په کار کې مداخله کوي، داسې کړنه او څارنه، د دې لامل کېږي چې په افراد او مامورينو کې د کارکولو انرژي ختمه شي کار کول ورته يو جبري شی معلوميږي، ځان ورته يو مزدو او بي صلاحيته ښکاري، هڅه به کوي چې کوم بل چيري ځان ته د کار کولو زمينه برابره کړي، بناء د غوره قائد لپاره دا غوره ده چې په کارمندانو باندې د هري ورځې څارنې څخه ډډه وکړي، ځکه کارمندان بيا فکر کوي چې مشر يې په دوی باندې بې اعتباره دی دوی ورتـــه غلـــه او خاينان ښکاري .رسول الله صلى الله عليه وسلم به د خپلو افرادو څارنه کوله کله چې به له کوم صحابي نه داسې عمل تر سره شوه چې د اسلامي شريعت د اصولو خلاف عمل وه، زر تر زره به رسول الله صلى الله عليه وسلم منبر ته پورته شو لکه يوځلي بريره رضى الله عنها عايشي رضى الله عنها ته راغله چې زه خپل بادر مکاتبه کړي يمه که تاسو راسره په دي برخه کې مالي مرسته وکړئ، عايشې رضى الله عنها ورته وويل سمه ده زه به دي له دوی څخه واخلم بيا بـــه دي آزاده کم ستا ولاء يعني ميراث به زما وي، دا ولاړه خپل بادار ته يې دا خبر ه وکړه هغوی انکار وکړ، مګر پـــه دي شرط چې ستا ولاء يعني ميراث به زمونږ وي، بريري رضى الله عنها عايشي رضى الله عنها ته دا خبر راوړ وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر شو عايشي رضى الله عنها ته يې وويل ته بريره واخله وروسته يې آزده کړه ولاء او ميراث د هغه چا حق کيږي چې آزاد کړې يې وي، وروسته ودريده مسجد نبوي ته لاړ خپل منبر ته وخوت خلکو ته يې په خطبه کې داسې وفرمايل{مَا بَالُ أَقْوَامٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطًا، لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَيْسَ فِي كِتَابِ اللَّهِ، فَلَيْسَ لَهُ، وَإِنِ اشْتَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ} (البخاري, ۱۴۰۷هـــ ق) ژباړه: څه حال دی ځينوخلکو لره چې د کتاب الله خلاف شرطونه ږدي، کوم خلک چې داسې شرط ږدي چې کتاب الله کې شتون نه لري، دی يې حق نه لری ولـــو کـــه ســـل شرطونه وضع کړي.

له ښه څارنې نه وروسته به يې هر يوه ته د هغه د اهليت او استعداد مطابق دنده سپارله د مثال په توګه له هجرت نه مخکې يې د اسلامي دعوت او د مسلمانانو د سفير په حيث مصعب بن عمير رضى الله عنه مديني ته واســـتاوه(حاکم ۱۴۱۱هـــ ق ص٦٨١.) چې ستره پايله يې درلوده کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مديني ته هجـــرت وکـــړ د مصعب بن عمير رضى الله د دعوت په برکت سره د مديني منوري په هر کورکې يو مسلمان شتون درلوده، وروسته له هجرت څخه يې معاذبن جبل يې د يمن د والي په حيث مقرر کړ. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۵) په دي اړه ډيـــر مثالونه شتون لري په همدي دو مثالو باندې اکتفاء او بسنه کوو.

### ۲-۴- خلاقیت یا د نوښتګر هڅونه او تشویق

فکري محرک د رهبریت له ځانګړتیاو څخه دی، چې د بدلون رهبري ټاکي، فکري ملګري اړتیا لري، چې وهڅول شي تر څو د دوی خلاقیت څرګند کړی شي. ښه رهبران یا مشران باید د دې اهدافو ترلاسه کولو لپاره د بشپړ ملاتړ سره د نوې ننګونې وړاندیز وکړي.

لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم خالد بن ولید ته د موته په غزوه کې د زید بن حارثه او عبد الله بن رواحه رضی الله عنهما له شهادت څخه وروسته د ښه جنګې تاکیک په خاطر چې صحابه کرام یې وژغورل د سیف الله لقب ورکړ د خالد بن ولید رضی الله عنه له لوري دا یو ښه نو ښت وه. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۷)

همدا راز یې سلمان فارسي رضی الله عنه ته چې د خندق ایستلو ابتکار وکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته ستر مقام او ارزښت ورکړ او د ده په اړه یې وویل: «سَلْمَانُ مِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ»( الحاکم، ۱۴۱۱ه ق ص ۶۹۱) ژباړه: سلمان زموږ له اهل بیت اوکورنۍ څخه دی.

### ۳ -۴ –د افرادو لپاره د مکافاتو وړاندیز کول

د یو ښه رهبر بل مهم معیار پدې پوهیدل دي چې د مؤثره پیژندنې او مکافاتو وړاندیز کول له افرادو سره د ستاینې او خوښۍ احساس کولو کې یوه له غوره لارو څخه دی، دا ممکن د حیرانتیا خبره هم نه وي چې خوښ کار خلک په کار کې د غوره ترسره کولو تمه لري، ښه مثال یې د ابوبکر رضی الله عنه لپاره د صدیق لقب او د عمر رضی الله عنه لپاره د فاروق لقب ورکول د خیبر په غزوه کې د بیرق ورکول علي رضی الله عنه ته او د حنین له غزوي وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري د غنامیو ویش او تقسیم او د موته غزوي څخه وروسته خالد بن ولید ته د سیف الله لقب ورکول او داسې ډېر مثالونه شتون لري چې د اختصار په خاطر په همدي مثالونو باندې بسنه کیږي. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۷)

### ۴-۴- د نویو شیانو د ایجاد او د اختراع هڅه او کوښښ

لکه څنګه چې رهبرۍ ځینې ځانګړتیاو ته وده ورکولو لپاره کار کوي ، دا به نه هیروي چې خپلو پیروانو ته د عکس العمل او الهام په لټه کې واوسي. هغه شیانو ته پاملرنه وکړي چې په تیرو وختونو کې موثره وي او تل د ډلې د غړو هڅونې او انعام ورکولو لپاره د نویو لارو په لټه کې واسي. ښه مثال یې د بدر په غزوه کې د حباب بن منذر رضی الله عنه مشوره دا وه چې نوري ټولي ځاګاني په ډېرو وچې شي یوه ځا دي پریښودل شي تر څو مجاهدین صحابه تږي ګټه واخلي دښمن به بي اوبو پاته شي چې دا نظر د رسول الله صلی لله علیه وسلم خوښ شو او عملي کړ( الحاکم، ۱۴۱۱هـ ق ص ۴۸۲) د احزاب په غزوه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مشورتي جرګه دعوت کړ چې د مشرکینو په مقابل کې څه باید وشي؟ سلمان فارسي رضی الله عنه د خندق کېندلو مشوره ورکړه چې اصلا عربان ورسره نا اشناء او نابلده ول رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړي مشوره عملي کړه مشرکین هیڅ ونه توانیده چې له نوموړي خندق څخه تېر شي او له یو غیر مترقبه او نا اشناء کړني سره مخ شول. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۸۹)

## ۴-۵ – په کاري ډله کې مسؤولیت رواجول

د یو ښه مشر او رهبر بله غوره ځانګړنه دا ده چې په خپلو کارمندانو کې د هڅونې او تشویق له لارې کـاري مسؤلیت رواجوي ، تر هرڅه نه وړاندې د یو مشر او رهبر لپاره دا غوره ده چې لومړی خپله مسؤلیت وپیژني او هغه تر سره کړي، تر څو رعیت داسې فکر وکړي چې مشر او رهبر مو چې کار او مسؤلیت اخیستی موږ یې هم باید واخلو، په خپله د مسؤلیت اخیستل د دې سبب کیږي چې پرته د امر او لاربښونې نه کارمند مسؤلیت ته زړه ښه کړي لکه: براء بن عازب رضی الله عنه ویلي چې د خندق په ایستلوکې مارسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده چې خاوري یې په مبارکه لمنه کې انتقالولې چې د مبارک علیه الاسلام د خیټې سپینوالي خاورو نیولي وي یعني سپینوالی یې نه ښکاره کیده څکه په خاورو وې (البخاري، ۱۴۲۲هـ، ص ۲۶)،رسول الله صلی الله علیه وسلم چې مدینې منورې ته راغې د نبوي مسجد په آبادولو کې له صحابو کرامو سره سهیم شو، په ډیرو غزاګانو کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ په اول صـف کې قرار درلود. (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۹۱) داسې نور ډیر مثالونه شته موږ په همدې مثالو باندې بسنه کوو، ښه مدیر د ادارې د کارمندانو زړه د وظیفې نه نه توروي، بلکه دومره صمیمیت عاموي چې کارمند دفتر ته دتـګ شـېبې شماري نه دا چې د دفتر نه یې زړه تنګ وي .

## ۴-۶- خپلو افرادو سره د احترام، شفقت او مهرباني له مخې چلند کول

په اداره کې چې هر فرد په کوم موقف کې قرار لري ، د انسان په توګه د درناوي او احترام وړ دی، د هر چـا کار ارزښت لري. یو بل ته بې احترامي له کار څخه د ناراضي یا د کار د کیفیت په اړه نه وي بلکه د بـې احترامـې کوونکي شخص کبر، ویره او قهر ښکاره کوي ، بې احترامه شخص نه پوهیږي چې څه وکړي خپل جهالت او ناپوهي بل ته په سپکاوي کې پټوي.

د ښه مدیر دا غوره ځانګړنه ده چې خپل ټیم ته تل د اهمیت په سترګه وګوري، د ادارې غړیو ته د ځینو اشتباه وو نه تیریږي، د اشتباه به صورت کې یې د نورو افرادو په منځ کې نه رټې، بلکې په ګوښه ځای کې ورته د اشتباهاتو حل وړاندې کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپلو صحابو کرامو سره په پوره درناوي سره برخورد کاوه د مثال په توګه الله جل جلاله د د ه د ښه برخودر او کړني مثال په قران کریم داسې یادوي : {فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ } [آل عمران: ۱۵۹] ژباړ: د الله په رحمت او مهرباني سره ته دوی ته نرم کړی شوي، که ته قهر جن او سخت زړه وای دوی به ستاله شاخوا څخه تللی وای یعني لري شوي بـه وه تاته به نه راتلل او نه به درته نژدې کیدل، همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم زوم جلیل القدره صحابي عثمـان رضی الله عنه چې کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته داخل شو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلي مبـارکې پښې ټولي کړې او خپل لباس یې تنظیم کړ، وروسته د مسلمانانو مور عایشې رضی الله عنه ورته وویل یا رسول الله تاسو

ولي د ده په خاطر خپل ځان را ټول کړ پښې مو جمع کړي رسول الله صلى الله عليه وسلم د عايشي رضى الله عنها په ځواب کې يې وويل: «**أَلَا أَسْتَحْيِي مِنْ رَجُلٍ تَسْتَحِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ؟**» (المدنى, ١٤١٨هـــ, پاڼه ٣٦٨)

ژباړه: ايا زه هغه چا څخه چې ملائيکې حياء کوي حياء ونه کړم.

**{عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَدَحٍ، فَشَرِبَ مِنْهُ، وَعَنْ يَمِينِهِ غُلاَمٌ أَصْغَرُ القَوْمِ، وَالأَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ، فَقَالَ: «يَا غُلاَمُ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أُعْطِيَهُ الأَشْيَاخَ» ، قَالَ: مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ بِفَضْلِي مِنْكَ أَحَدًا يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ }**(البخاري, ١٤٠٧هـــ ق, پاڼه ١٠٩)

ژباړه له سهل بن سعد رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په يوه لوښي کې د څښلو اوبه راوړل شوي ده صلى الله عليه وسلم ورڅخه وڅښلي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښي لورې ته يو ځوان ناست وه او چپ لوري ته يې نور مشران صحابه ناست ول، نبي عليه السلام نوموړي ځوان ته وويل ايا اجازه راکوي (چې چپ لورې ته مي چې کوم) مشران (ناست دي) اوبه ورکړم؟ نوموړي ځوان وويل: نه يا رسول الله صلى الله عليه وسلم زه خپله برخه ستاله لوري بل چاته نه غوره کوم. (رسول الله صلى الله عليه وسلم) د اوبو لوښى نوموړي ځوان ته ورکړ.

**٧-٤- خپلو افرادو ته وده او پرمختګ ورکول**

هيڅوک په خپل ځان کې پوره نه دى، په همدي خاطر غوره مشر هغه دى چې د خپلو افرادو د ودې پرمختګ او زده کړې لپاره کار کوي. د اسلامي امت قائد او هر مشر بايد د خپلو افرادو مسلکي ودې لارې خلاصي کړي او ويې هڅوي تر څو پر خپلو غښتلتياوو او استعدادنو کار وکړي وده ورته ورکړي. خو لدې سره اړونده مهم بحث دا دى چې په دې ټولو کې ځان ته نوم ونه لټوي ، لکه چې پلانکى ما ورساوه يا له ما سره يې چې کار کاوه پر هيڅ نه پوهيده، ورسره د افرادو له ودې سره هممهاله پر خپلې ودې او پرمختګ هم کار کوي. رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل ملګري او صحابه داسې تربيه کړل، او داسې هر اړخيزه وده يې دوى ته ورکړه چې د ده مبارک په ژوند او له ده وروسته چې کوم مسؤوليتونه دوى ته سپارل شوي په ډيره ښه توګه يې سرته رسولي، لکه: مصعب بن عمير رضى الله عنه ته يې په دعوتي او سياسي ډګر کې وده او پالنه ورکړي وه چې مديني منورې ته يې د سفير په حيث وليږه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مديني ته مهاجر کيږي د مديني په هر کورکې يو فرد په اسلام مشرف شوى وي (المباركفوري, ١٩٨٠م, پاڼه ٩٨) ، معاذ بن جبل يې ته يې د سياسي چارو او قضايې فيصلو اړوند تربيه او پالنه کې وده ورکړي وه چې يمن ته يې د قاضي په حيث وليږه دا ټول د دي لپاره چې هر مسلمان فرد خپل مسؤوليت ته متوجه وي او په سمه توګه يې سرته ورسوي. ( البخاري ١٤٢٢هـــ ص ١٠٤) د امت د افرادو لپاره يې د کسب او کار او اقتصادي پياوړتيا په برخه کې تشويقوي پيغامونه ورکول تر څو په دي برخه کې وده وکړي لکه چې ويلي دي: «**التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ، وَالصِّدِّيقِينَ، وَالشُّهَدَاءِ**» (الترمذي،١٣٩٥ ه،ص٥٠٧) ژباړه: رښتيا ويونکي او امانت دار تجار به له پيغمبرانو او شهيدانو سره حشر کيږي.

## ۸-۴ - کارمندانو او مامورینو ته په اداره کې په تصمیم نیونه او مشوره کې برخه ورکول

په هره اداره کې د سازماني کلتور او رهبرۍ ډول ته په کتو د تصمیم نیونې مختلفې پروسې کارول کیږي. ځیني د ټول ټیم د ګډه توافق له لارې تصمیم نیسي او ځیني نور بیا د مدیر او مدیریت ډلې ته ټولې غټې پریکـــړې او تصـــامیم سپاري، د غوره سازمانونو د مدیرانو یوه ځانګړنه داده چې د یوې پریکړې په اړه له خپلو افرادو نه فیډبک او نظرونـــه اخل، د بدر په غزوه کې رسول الله صلی الله علیه وسلم له کفارو سره د جنګ کولو په اړه مشورتي جرګه را وغوښته دلته د مهاجرینو څخه ابوبکر او عمر رضی الله عنهما خبري وکړي چې تاسو کوم تصمیم نیولی موږ درسره یـــو دلتـــه رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو د تصمیم او ارادې د معلومولو په اړه یې له دوی څخه پوښتنه وکـــړه چـــې د انصارو نماینده مقداد رضی الله عنه ورته وویل: یارسول الله! موږ د بني اسرائیلو په څیر نه یو چې موسی علیه السلام ته یې وویل: ته او الله دي ولاړشي جنګ وکړي موږ به دلته کینو، بلکې موږ درته وایو چې تاسو او الله جل جلاله حرکت وکړي موږ درسره یو... (المبارکفوري, ۱۹۸۰م, پاڼه ۱۰۶)

ډیری مشران چې د مشري أهلیت نه لري په واسطي او نورو لارو مشري ته رسیدلی اکثره خود سرانه کارونه کوي د افرادو مشوري او نظرونو ته غوږ نه نیسي چې داسې ادارې له مختلفو ستونزو سره مخ شوي د افرادو او مشر ترمنځ اختلافات، خوابدي او مشکلات رامنځ ته شوي، ځکه داسې اشخاص د مشري د نه أهلیت په درلودلو سره د افـــرادو سپکاوی کوي ټول واک که یې دی صلاحیت لري او که نه پکې مداخله کوي تر دي چې د ملازم په کارو کـــې هـــم مداخله کوي، خپل وظیفي لایحه ورته نه وي معلوم او یا یې سر نه پري خلاصیږي او یا قصدا دا کار کوي دی خپل ځان تام الاختیار بولي بل چا ته د نظر او مشوري حق نه ورکوي چې داسې اشخاص موږ په اکاډمیکو ساحو کې هـــم پـــه سترګو لیدلي چې پایله یې ناکامي او زوال وي.

**موندني**

څرنګه چې د هیواد په سطحه د اداري د پرمختګ او شاته پاته کیدلو په اړه اسلامي شریعت کې پوره او مکملي لارښوني شتون لري دهیواد مشر څخه نیولې تر عادې مسؤول پورې ځانګړي موصفات لري او په اسلامي شریعت کـــې ورته لارښوونه شوي که د اسلامي امت مشران نوموړي لارښوني عملي کړي نو یقینا به هیواد په هر اړخیزه توګه د داسې مشرانو په ذریعي سره چې موصفات یې ذکر شو پرمختګ کوي او که قائد او مشر له نوموړو لارښوونو څخـــه مخ واړوي عمل پري ونه کړي، په یقني توګه به نوموړي مشران او لاس لاندې اداري له زوال او سقوط سره مخامخ کیږي له دغو لا رښونو څخه د اسلامي امت د مشرانو غوره صفاتو او ځانګړتیاو خپلول دي، چې وموړي مواصفات د اداري د کامیابي راز بلل سوی چې لاندې عمده ټکو ته د موندني په حیث ا شاره کول غواړم

۱- څیړني وښودله چي کومه اداره کې چې په فطري او اسلامي ا خلاقو باندې د اداري مشر سمبال وي نوموړي اداره به ورځ تر بلي پرمختګ کوي.

۲- څیړني وښودله چي د اداري د مشر غوره سلوک له خپلو افرادو سره په افرادو کې له اداري ســـره د ژوری دلچسپي او خواخوږي سبب کیږي، افراد د اداري د پرمختګ لپاره د هر راز قرباني او ایثار ته اماده کیږي.

۳- څېړني وښودله چې د مشر ډېر جدیت او بې ځایه مداخله د افرادو په کارونو کې په اداره کې د بې اعتمادي احساسات را پاروی، چې پایله یې د ادارې زوال دی.

۴- له افرادو سره د مشر او رهبر مشوره په کارونو کې د پرمختګ ښه موثر حالت را منځ ته کوي.

۵- غوره مشر او رهبر هغه دی چې خپلو افرادو ته په درنه سترګه ګورې او په پوره اهمیت سره ورته قائل وي.

٦- څېړني وښودله چې قائد خپل استعدادونه وپېژني د خپل مسؤولیت په اړه هر اړخیز معلومات ولري، له داسې کړنو څخه چې د شریعت خلاف وي ځان وساتي که داسې نه وي یو ناکام مشر ورته ویل کیږي چې دنیوي او اخروي ذلت سره به مخ کیږي.

۷- څېړني وښودله چې مسؤولیت کوم امتیاز نه دی بلکې ستر امانت دی په همدې خاطر هر شخص او فرد دې مسؤولیت آخیستلو ته زړه نه ښه کوي.

**مناقشه**

له دې څېړني څخه څرګنده شوه چې د اسلامي شریعت په لاروښونو باندې ځان پوه کول او د عمل په ډګرکې یې تطبیق د اسلامي امت د مشرانو لپاره په اداره او منجمنت کې د پر مختګ غوره لامل ګرځي او په نه عملي کولو سره یې په اداره کې د اختلاف زوال او بدبختي لامل ګرځې .

**پایله**

د دې څېړني په بهیر کې لاندې پایلوته رسیږو:

۱- په اسلام کې رهبریت او مشري ته ډېر اهمیت او ارزښت ورکول شوی.

۲- کوم رهبر او مشر کې چې پورته مواصفات موجود وي نو د ادارې د ښه پر مختګ لامل جوړیږي.

۳- کومو ادارو کې چې د مشر او افرادو ترمنځ بې اعتمادی موجود وي داسې ادارې له زوال سره مخ کیږي.

۴- کوم مشر او رهبر چې نوموړي صفات په ځان کې راولي نو د ادارې ټول افراد او غړي به ورسره پوره همکار او مرسته کوونکې وي.

۵- په اکثرو ادارو کې چې کومې ستونزې موجودې دي او یا واقع کېږي عمده لامل د ادارې د مسؤول له لوري خپلو کړنو او صلاحیتونو ته نه پاملرنه او له افرادو سره غیر أصولي او غیر اکادمیک أخلاقو غوره کول دی.

**وړاندیزونه**

د اسلامي امارت له قدرمنو مشرانو څخه مو هیله او غوښتنه دا ده چې پورته مواصفاتو او ځانګړتیاو ته پاملرنه وکړي ترڅو په ټولو ادارو کې د ښه او مثبت پرمختګ شاهدان واوسو.

۲- د اسلامي امارت له ټولو کارکونکو او منسوبینو څخه مو هیله ده چې د خپلو رهبرانو او مشـــرانو ســـره د اسلامي شریعت، قانون او مقرراتو په تطبیق کې هر اړخیزه همکارې او مرسته وکړي.

**۳- له اداري کارمندانو او مامورينو څخه مو هيله ده چې د اداري د پرمختګ لپاره هيڅ ډول مرسته او همکارۍ ونه سپموي.**

**۴- له عام ملت څخه مو دا هيله ده چې خپلې غوري مشوري او سالمي نيوکې د اسلامي امارت له مسؤولينو سره شريکې کړي، تخريب کوونکو عناصرو ته اجازه ور نه کړي چې بي ځايه تبليغات وکړي، شته فرصتونه يو ځل بيا لاسه ورکړو ، تر څو په راتلونکي کې شته ستونزي په خپل وخت سره حل شي.**

**۵- علماء کرامو او استاذانو څخه مو هيله دا ده چې د نوموړو مواصفاتوو اړوند خپلو مقتديانو او شاګردانو عامه پوهاى ورکړي او د هري ساحي له مربوطه مسؤولينو سره خپل روابط وپالي هغوى ته خپلي نيکې مشوري ورکړي.**

**ماخذونه**


القران الكريم

۱- إبراهيم الفقي. (۲۰۰۸م). سحر القيادة - كيف تصبح قائداً فعالاً جزء ۱. (الطبعة الأولى)، مصر: دار اليقين للنشر والتوزيع ، بتصرّف. مصر: دار اليقين للنشر والتوزيع.

۲- مدني مالک بن أنس بن مالک بن عامر الأصبحي (. (۱۴۰۶ هـ - ۱۹۸۵ م). موطأ الإمام مالک. لبنان: الناشر: دار إحياء التراث العربي، بيروت - لبنان.

۳- أندلسي، أبو الوليد سليمان بن خلف بن سعد بن أيوب بن وارث التجيبي القرطبي الباجي ( (۱۳۳۲ هـ). المنتقى شرح الموطإ. مصر: مطبعة السعادة.

۴- بخاري أبو عبدالله اسمعيل (۱۴۰۷ - ۱۹۸۷) الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه ، الناشر: دار طوق النجاة (مصورة عن السلطانية بإضافة ترقيم محمد فؤاد عبد الباقي) .

۵- بيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي(۱۴۰۴هـ) الزهد الكبير للبيهقي.

٦- ترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاک، أبو عيسى (۱۳۹۵ هـ) سنن الترمذي، الناشر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي - مصر.

۷- حاکم، أبو عبد الله محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم الضبي الطهماني النيسابوري المعروف بابن البيع (۱۴۱۱هـ)، المستدرک على الصحيحين الناشر: دار الكتب العلمية - بيروت

۸- خرايطي، أبو بكر محمد بن جعفر بن محمد بن سهل بن شاكر (۱۴۰٦هـ). المنتقى من كتاب مكارم الأخلاق ومعاليها و محمود طرائقها. دمشق سورية: دار الفكر.

۹- ربعي أبو سليمان محمد بن عبد الله بن أحمد بن ربيعة بن سليمان بن خالد بن عبد الرحمن بن زبر( ۱۴۰٦ه)، وصايا العلماء عند حضور الموت الناشر: دار ابن كثير - دمشق - بيروت.

۱۰- عواجي محمد بن محمد ۱۴۲۵(هـ/۲۰۰۴م مرويات الإمام الزهري في المغازي عدد الأجزاء: ۲ [ترقيم الكتاب موافق للمطبوع وهو مذيل بالحواشي]

۱۱- مباركفوري، صفي الرحمن، (۱۹۸۰م ) الرحيق المختوم، بيروت: دار الهلال - بيروت (نفس طبعة وترقيم دار الوفاء للطباعة والنشر والتوزيع.

۱۲ -نسابورى( (۱۳۷۴هـ.، المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم. القاهره: دار الجيل بيروت + دار الأفاق الجديدة ـ بيروت.

**خصائص الممتاز للقيادة في الاسلام**

**ملخص**

فالقيادة هي فن معاملة الطيبة البشرية والتأثير في سلوك البشري و توجيهه نحو هدف معين تضمن بها طاعته و ثقته و احترامه،و يتوقف نجاح (القائد) في مهمته هذه على مدى ما يتصف به من مزايا و خصائص، علما بان هناک بعض الصفات الفطرية التي قد تساعد علي تنمية الامكانيات القيادية، ولكن الي حد معين، و بقدر معلوم.. و لابد من استكمال (الشخصية القيادية) قدرات اخري فكرية، و روحية، و جسمية، و الادارية، و تنظيمة، و اخلاقية، و شخصية..

و مركز القائد فى الحركة- كل حركة- مركز حساس. ما لم تتوفر في شخصية الصفات القيادية اللازمة فسيبقي المركز القيادي مزعزعا مضطربا بالغا ما بلغ القائد من الثقافة الفكرية، و القدرة الخطابية. لان منطق الادارة غير منطق الكلام.. و الادارة جهاز حركي متكامل لايمكن ان يتحكم في ضبط حركاته، و تقدير خطاء، و توجيه سيره، و انفعالاته الا منطق التنظيم، و التخطيط، و الانضباط..

نحن نرا كثيرا من المشاكل بين القائد – و الجيش، و افراده مع انهما يعيشان في ادارة واحدة ليس بينهما التعاون، فلذلک اخترت هذا الموضوع، حتى اتوجه اخواني الى هذه الصفات المهمة ، التي تكون بابا لكل خير، و صلاح ، وفلاح الدارين، و خلاصا من اكثر المشاكل الادارية، و سببا للاتحاد بين المدير ،و افراده . و الهدف من تحرير هذه الرسالة، اريد ان اظهر لاخواني اهمية هذه الصفات للمدير، و فوائده في ضوء النصوص الشريعة، و في الخلاصة ان اعظم المشاكل التي يواجهونه اخواننا في الادارات بينهم كعدم التعاون، و البعد بينهم عدم اعمال مايأمرهم النصوص الشريعة . و قد اورد المحدثون في كتبهم حول الموضوع، كثيرا من الاحاديث والاثار وشرح الشراح احاديث المربوط شرحا بسطا لنا، ولكن هذا الكتب اكثرها كتبت بلغة العربية لايستطعون شبابنا وفتياتنا ان يستفدوا منها فلذلک اخترت هذا الموضوع، وكتبته بلغة البشتوية حتي يستفد منها شبابنا في حيا تهم اليومية ويعرفون فضائل و فوائد هذه الصفات القيادية و في النتيجة وصلنا انه لا خلاص، و لامجال من المشاكل؛ الا بمراجعتنا الى فهم الدقيق من الاسلام ، و العمل به، والدعوة اليه .